# دبدنظری
# څوارلس تاوانونه

شیخ العرب والعجم عارف باللہ حضرتِ اقدس
مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہ امدادیہ اشرفیہ
گلشن اقبال بلاک نمبر ۲ کراچی

# دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت
# نه داونلود شوی دی.

## www.aqeedeh.com

برښنا ليک: book@aqeedeh.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

## په فارسی ژبه کې ځينی مفيد سايټونه:

www.aqeedeh.com
www.islamtxt.com
www.shabnam.cc
www.kalemeh.tv
www.islamtape.com
www.blestfamily.com
www.islamworldnews.com
www.islamage.com
www.islamwebpedia.com
www.islampp.com
www.zekr.tv
www. mowahedin.com
www.sadaislam.com
www.islamhouse.com
www.bidary.net
www.tabesh.net
www.farsi.sunnionline.us
www.sunni-news.net
www.mohtadeen.com
www.ijtehadat.com
www. nourtv.net
www.videofarsi.com

# دبدنظری ځوارلس تاوانونه

شیخ العرب والعجم عارف باللہ حضرتِ اقدس
مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہ امدادیہ اشرفیہ
گلشن اقبال بلاک نمبر ۲ کراچی

| نمبرشمار | موضوعات | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| ۱ | باسمه سبحانه وتعالیٰ | ۳ |
| ۲ | د اللّٰه تعالیٰ نافرمان | ۴ |
| ۳ | په امانت کې خیانت کوونکی | ۵ |
| ۴ | دملعون دخطاب مستحق ګرځي | ۶ |
| ۵ | احمق او بې عقل منل کیږی | ۹ |
| ۶ | د اللّٰه تعالیٰ دغضب اولعنت مستحق ګرځي | ۱۰ |
| ۷ | زړه کمزوری سی | ۱۳ |
| ۸ | طبی نقصان غدی او مثانه پاړسوب پیدا کی | ۱۶ |
| ۹ | دسرعت انزال مریض ځنی جوړسی | ۱۶ |
| ۱۰ | په ناشکری کی مبتلا سی | ۱۶ |
| ۱۱ | بینائی ته نقصان رسیږی | ۱۷ |
| ۱۲ | د زړه خانه خرابه سی | ۱۸ |
| ۱۳ | دزړه مرض انجائنا ورپیښ سی | ۱۹ |
| ۱۴ | شرمګاه یی محفوظه نه پاتیږی | ۲۰ |
| ۱۵ | دمُشت زنی مریض جوړسی | ۲۱ |

# باسمه سبحانه وتعالیٰ

زیرِ نظر رساله د روحانی طبیب اعظم شیخ العرب والعجم ولیہ کامل حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتهم العالیه وعظ دی. په دې رساله کښی حضرت دهغی ناجوړی دینی او دنیوی نقصانات بیان کړی دی چی د کومی ناجوړی احساس دخلقو له زړونو نه ختم شوی ده. دغه رساله اصلاً په اردو ژبه کښې ده، لیکن اللّٰه تعالیٰ دی مترجم ته اجر عظیم ورکړی چی دوی پښتو ژبی ته رانقل کړه، واقعی په پښتو او بالخصوص په هغو خلقو چی هغه له اردو ژبی سره ناواقفه دی ددوی احسان عظیم ده. دغه رساله ما وکتله انشآء اللّٰه هیڅ غلطی په کښی نشته.اللّٰه تعالیٰ دی د اُمَّت دهدایت ذریعه وګرځوی.

سیف الرحمن

امام مسجد اشرف ګلشن اقبال کراچی

# دبدنظرى څوارلس تاوانونه

دغه مضمون حضرت صاحب دامت برکاتهم په خپله حجره خانقاه ګلشن اقبال کراچى کى په ٦صفرالمظفر ١٤١٩مطابق ٢ جون١٩٩٨مازديګرپه ورز دسې شنبې بيان کړى.

## ١ دالله تعالىٰ نافرمان

حضرت صاحب وفرمايل چى بدنظرى په حکم قطعى سره حرامه ده دالله تعالىٰ فرمان دى

﴿ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْامِنْ اَبْصَارِهِمْ ﴾

اې نبى ﷺ تاسى ايمان لرونکوته وواياست چى خپل نظرونه کښته وساتى يعنى نامحرم ښځو او هلکوانو ته مه ګورى. بس څوك چى بدنظرى کوى هغه دحکم قطعى مخالفت کوى او دحکم قطعى په مخالفت کولو سره دحرام عمل کونکى ګرځى. لهٰذا دبدنظرى څخه دځان

ساتلو دپاره دافکر کول کافی دی چی دا دحکم قطعی مخالفت دی یعنی دالله تعالیٰ نافرمانی ده.

## ۲ په امانت کی خیانت کوونکی

او بدنظری کوونکی دالله تعالیٰ په امانت کی خیانت کوی الله تعالیٰ فرمائی

﴿ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴾

الله تعالیٰ دسترګو په خیانت او د زړه په رازو خبر دی، دخیانت د لفظ نازیلیدل دا راښوی چی موږ دخپلو سترګو مالکان نه یو امانت ساتونکی یو. ځان وژل هم پدې خاطر حرام دی چی موږدخپل جسم اصلی خاوندان نه یو الله تعالیٰ د امانت په رقم موږ ته دا جسم راکړیدی او ځکه چی دا امانت دی پدې خاطر دمالك د امر پرخلاف دا استعمالول یا جسم ته تاوان رسول یا دمینځ څخه وړل روا ندی. که موږ دخپل جسم او ځان خاوندان وای نودهر قسم ردوبدل

حق به مودرلودای ځکه چی مالك ته په خپل مِلك کی دهر ردوبدل اختياروی، داللّٰه تعالٰی وه بندګانو ته دا اختيار نه ورکول دليل دی چی دا جسم زموږ سره داللّٰه تعالٰی امانت دی او دمالك په امانت کی خيانت لوی جرم دی.لهٰذا ځوك چی بدنظری کوی هغه داللّٰه تعالٰی په ورکړی امانتِ بصريه کی خيانت کوی او خيانت کوونکی داللّٰه تعالٰی دوست نسی ګرځيدای.

## ۳ دملعون دخطاب مستحق ګرځی

او بدنظری کوونکی دحضرت محمد ﷺ دلعنت وړ ګرځی.دمشکوٰة شريف حديث دی

﴿ لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ ﴾

حضرت محمد ﷺ فرمائی چی اللّٰه تعالٰی دی پرناظر (کتونکی) اومنظور (ځان ښکاره کوونکی) دواړو باندی لعنت وکی يعنی ځوك چی بدنظری وکی پرهغه دی هم

دالله تعالیٰ لعنت وی او څوك چی دبدنظری دپاره ځان مخته کی خپل حسن ونورو ته ښکاره کوی پر هغه دی هم دالله تعالیٰ لعنت وی که چیری بدنظری معمولی ګناه وای نوحضرت محمد ﷺ چی رحمة للعالمین دی داسی ښیرا ئې نه ورته کول، دحضرت محمد ﷺ ښیراکول دلیل دی چی دا عمل اینتهائی بد دی او دلعنت معنیٰ ده دالله تعالیٰ د رحمت څخه لیریوالی.

امام راغب اصفهانی په مفردات القُرآن کی دلعنت معنیٰ لیکلی ده" **اَلْبُعْدُ عَنِ الرَّحْمَةِ** "بس کوم سړی چی دالله تعالیٰ درحمت څخه لیری سو هغه دنفس اماره دشر څخه ځان نسی ساتلای ځکه چی دنفس دشر څخه هغه څوك ځان ساتلای سی چی دالله تعالیٰ درحمت په سایه (سویری) کی وی. الله تعالیٰ فرمائی

﴿ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْٓءِ ﴾

نفس كثيرالامر باسوء دى يعنى ډير زيات دبدى حكم كوونكى دى. نوبيا څوك دنفس دشرڅخه ځان ساتلاى سى؟ ﴿ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىْ ﴾ مگر پرچا چى دالله تعالى درحمت سايه وى.معلوم سول چى دنفس دشر څخه د ځان ساتلو يوائځنى لاره دالله تعالى د رحمت سايه ده ځكه چى د ﴿اَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ﴾ خارجول خپله خالق د ﴿اَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ﴾ كړيدى. بس څوك چى د ﴿ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىْ ﴾ ترسايې (سويرى) لاندى راغلى د هغه نفس ﴿اَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ﴾ نه پاته كيږى "اَمَّارَةٌۢ بِالْخَيْر" به سى. پدې خاطرد ﴿ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ﴾ وروسته يې ﴿وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ﴾ وفرمايل چى چا دخپلو ستركو حفاظت وكى هغه دفرمان الٰهى په بركت سره او دحضرت محمد ﷺ د بنيرا څخه دځان ساتنى په بركت دالله تعالى د رحمت په سايه (سويرى) كښى راغلى اوس به نو دهغه شرمگاه هم دگناهونو څخه

محفوظه سی. معلومه سوه چی دسترګو دحفاظت انعام د شرمګاه حفاظت دی اود دې قضیې تصور وکړی څوك چی دخپل نظر حفاظت ونه کړی دهغه شرمګاه هم دګناهونو څخه محفوظه نسی پاته کیدای اوپرهغه باندی چی څونه لعنت وسی هغه لږدی.

## (۴) احمق او بې عقل منل کیږی

حضرت حکیمُ الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمائی چی داسی خو هره ګناه دبې عقلی او حماقت دلیل دی څوك چی ګناه کوی دا دلیل دی چی د هغه په عقل کی خرابوالی دی چی دونه لوی مالك خوابدی کوی، د چا په قبضه کی چی زموږ ژوند او مرګ، تندرستی او ناجوړی، راحت او سکون، ښه خاتمه او بده خاتمه ده، که چیری دهغه عقل صحیح وای نو هیڅکله ئې ګناه نه کول لیکن فرمائی چی

بدنظرۍ خو بیخي دبیعقلتوب ګناه ده نه ورسره لیدل نه ورسره تلل ناحقه په ناحقه خپل زړه بې قراره کول دی. په لیدو سره هغه حسن نه خپل کیږی مګر زړه ناقراره سی اود هغه په یاد کی بې قراره وی او زما زړه ته الله تعالیٰ یو نوی علم عطاء کړی چی مسلمان ته تکلیف ورکول حرام دی نوڅوك چی بدنظرۍ کوی دې خوهم مسلمان دی، دې په بدنظرۍ کولو سره خپل زړه ته تکلیف ورکوی غم ورکوی بې قراره کوی ئې لهٰذا لکه څنګه چی بل مسلمان ته تکلیف ورکول حرام دی همدا رنګه خپل زړه ته دوك ورکول، تکلیف ورکول، بې قراره کول به څنګه جائز وی؟

## ⑤ د الله تعالیٰ دغضب اولعنت مستحق کرځي

اوس که یوڅوك ووائی چی دبنځو په کتلو سره زړه ته غم رسیږی لیکن دنظر په حفاظت کی خو هم زړه ته غم

رسيږي او په زړه کی ارمان وی چی آه څنګه ښائست بی
ئې وی؟ددې جواب دا دی چی په ليدلو کی چی څونه غم
وی هغه ډير زيات دی او دنه ليدو غم ډير لږ وی ځکه چی
که دی وليدله نو خبر سوې چی دهغې ښځی ښائست
داسی دی، سترګی ئې داسی دی، پزه ئې داسی ده، شکل
ئی کتابی دئ نو داغمِ حسنِ معلوم به ډير سخت وی او
زړه به بې قراره او بې راحته کړی او که دی دسترګو حفاظت
وکی نو دا به حسرت دحسنِ نامعلومه وی چی ندی ورته
وکتل نو لږ ارمان او سپك غم به وی او ډير ژر به هير سی او
پر ارمان دحسنِ نامعلومه باندی وزړه ته چی کوم د ايمان
خوند عطاء کيږی، دالله تعالی دنزديکت بې حده لذت چی
ورته معلوم سی د هغه ومخ ته به د ټوله کائينات خوندونه
ورته هيڅ هم نه معلوميږی ددې برعکس د ښائستو دليدلو
پرغمِ حسنِ معلوم باندی دالله تعالی غضب او لعنت اوری چی

په هغه کې زړه بې قراره او بې سکونه کیدو سره یوه لحظه هم ارام نسی پیدا کولائی او ژوند به ئې تریخ سی.

لهٰذا په دواړو غمو کښې دمځکې او آسمان فرق دی، یوعالِم رحمت دی، یو عالِم لعنت دی.په دواړو غمو کښې داسې فرق دی لکه په جنت او دوږخ کې.لهٰذا دنظر دحفاظت حکم پر ایمان لرونکو باندې د اللّٰه تعالیٰ لوی احسان دی چې ارمان د حسنِ نامعلوم په ورکولو سره ئې دسخت غمِ حسنِ معلوم څخه ئې وساتلو.لکه څنګه چې یو څوك غوماشه وخوری او یوڅوك مار ووهي نو څوك چې غوماشه وخوری هغه به شکر وکاږی چې اللّٰه تعالیٰ زه دمار دوهلو څخه وساتلم.لهٰذا دښائستو څخه دنظر په حفاظت کې چې ارمان دحسنِ نامعلومه دی هغه دغوماشې خوړل دی او ښایستو ته دکتلو غمِ حسنِ معلوم په مار باندې وهل دی.

## ⑥ زړه کمزوری سی

دبدنظرۍ څخه هر وخت د هغه دښایست خیالونه راګرځي او په زړه کې یو کشمکش وي چې په هغه زړه کمزوری سی.

دبدنظرۍ بدبختي داده چې دنظر سره سم حواسِ خمسه یعني پنځه سره حواسه او ټوله اعضاوې په حرکت راسي د ﴿ اِنَّ اللّٰهَ خَبِیْرٌۢ بِمَا یَصْنَعُوْنَ ﴾ تفسیر په روح المعاني کې علامه آلوسي داسې کړې دي چې **"بِـاِجَالَةِ النَّظَر "** بدنظري کوونکې دسترګو په لغړولو سره چې ښځو ته ګوري اللّٰه تعالیٰ په هغه خبر دی او **"بِاسْتِعْمَالِ سَائِرِالْحَوَاسِّ"** او دهغه حواس خمسه یعني پنځه سره مادی دحرام لذت د اخستوکوښښ شروع کړي. باصره یعني سترګه هغې ښایستیې ته کتل غواړي، سامعه یعني غوږ دهغه خبره د اوریدو خواهش کوي، قوت ذائقه دهغه خوند کتلو یعني

دحرام مچیدو غوښتنه کوی، قوت لامسه دهغه دمښولو او قوت شامه دهغې ښائستې خوشبوئی دبویدو په حرامو هلو کی اخته سی.

او دریم تفسیر دی **"بِتَحْرِیْکِ الْجَوَارِحِ"** دبدنظری کوونکی ټوله اعضاوی هم په حرکت کی راسی، لاس او پښې او نوری اعضاوی دهغه محبوب حاصلول غواړی اوالله تعالیٰ دبدنظری کوونکی دنظر او حواس او دټولو اعضاؤو په حرکتو خبر دی او بدنظری کوونکی خبر هم نه دی چی الله تعالیٰ ماته ګوری او **" وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا يَقْصُدُوْنَ بِذَالِكَ "** او ددې حرکتو چی آخیری مقصد دی یعنی بدفعلی الله تعالیٰ په هغه هم خبر دی او په خبریدو کی دسزا ورکولو حکم پټ دی چی زه ستا حرکتوته ګورم، که دی لاس نه ځنی واخستی نوعذاب درکوم.

بس په دې آیت کی اشاره ده چی داسی شخص ته به

سزا ورکول کیږی که توبه ونه کړی.بدنظری د بدفعلی اوله ځینه ده او آخیری استادګاه یی بدفعلی کول دی په کوم ځای کی چی شرمګاوی لڅیږی او سرې په دوارو جهانو کی رسواسی. پدې خاطر اللّٰه تعالیٰ دګناه اوله ځینه حرامه کړه.ځکه چی بدنظری یو داسی اُتومات یعنی خودکاره ځینه ده چی دقدم په ایښولو سره سړی تر ټولو آخیر منزل ته ورسیږی.

د هغه کار چی ابتدا یی غلطه وی دهغه انتهاء څنګه صحیح کیدای سی. همدا رنګه دبدنظری کوونکی حواسِ خمسه او ټوله اعضاوی په حرکت ولویږی او زړه دبدفعلی دخبیث قصد په خاطر په جنجال کی مبتلا سی. لهٰذا دبدنظری کوونکی زړه او ټوله وجود دواړه په کشمکش کی په مبتلا کیدو سره کمزوری سی.

## ۷) طبی نقصان غدی او مثانه پاړسوب پیدا کی

دبدنظری یوطبی نقصان دا هم دی چی مثانه او غدی پاړسوب پیداکی چی په هغه سره ژر ژر د بولو ضرورت پیښیږی.

## ۸) دسرعت انزال مریض ځنی جوړسی

دبدنظری شخه ځکه چی شهوت په حرکت راځی او ترمنی پوری ګرمی ورسیږی چی دهغه په خاطر منی نری سی بیا دهغه په وجه دسرعت انزال ناجوړی ورپیښه سی او داسی سړی دمایني حقوق په صحیح طریقه نسی ادا کولای پدې خاطر دمیړه او مایني په مابین کی اختلافات پیدا سی او کورنی ژوند ئې برباد سی.

## ۹) په ناشکری کی مبتلا سی

دبدنظری څخه ناشکری پیدا کیږی ځکه چی کله راز

راز شکلونه ووينى نو خپله ماينه بده ورته معلوميږى او په ناشکرى کى مبتلا سى چى ماته ښائسته ماينه نده راکړل سوى اوکه ښائسته وى نو وائى چى ډيره ښائسته نه ده راکړل سوى ځکه چى کومه ښځه ده ته ډيره ښائسته معلوميږى نو خپله ښائسته ماينه هم هغه ته ښه نه ايسى.دغه ډول دنعمت ناشکرى کوى او څوك چى پرهيزګاره وى نورو ته نه ګورى نوهغه ته خپله وچه ډوډى هم وريجى او غوښى معلوميږى او دالله تعالىٰ پر نعمت باندى شکر کوى.

## (۱۰) بينائى ته نقصان رسيږى

په بدنظرى دسترګوديد ته هم تاوان رسيږى ځکه چى دسترګو شکر دنظر حفاظت دى او په شکر سره نعمت ډيريږى ﴿ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ ﴾ الله تعالىٰ فرمائى که ته شکر وکې نو تا ته به نور هم ډير درکړم او بدنظرى کول ناشکرى ده ، دنعمت ناشکرى ده چى پر هغه دسخت

عذاب وعید دی ﴿ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِ لَشَدِيدٌ ﴾ او که ته ناشکری وکې نو زما عذاب ډیر سخت دی.

## (۱۱) د زړه خانه خرابه سی

او دنظر دحفاظت تر ټولو لوی انعام دالله تعالی قُرب او خاص تعلق دی، دلیلی څخه نظرساتل دمولی دحاصلولو سبب دی ځکه چی دنظر په حفاظت کی زړه دننه وینی سی او کله چی دزړه آسمان څلور طرفه د ارمانو په قربانولو سره سور وګرځی نو دزړه دهره کونجه څخه دقُرب او دخدای تعالی د دوستیلمر راپورته سی .

او په بدنظری سره دالله تعالی څخه دومره لیریوالی راځی که ورته معلومه سی نو سړی به هیڅ کله بدنظری ونه کړی. ددې مثال دادی کوم زړه چی دنظر دحفاظت په برکت هروخت ۹۰ درجې دحق تعالی طرف ته متوجه یی او ۹۰ درجې دحق تعالی په قُرب کی یی ،که ئې چیری بدنظری

وکړه نو دالله تعالیٰ ځخه ۱۸۰ درجې وګرځی او دهغه مخ دحق تعالیٰ ځخه ایسته سی او دهغې ښځی طرف ته وګرځی او هر وخت دهغې فنا کیدونکی لاش خیال ئې په زړه کی یی چی په هغه سره دزړه خانه خرابه سی اود ډیرو کسانو خاتمه هم دبدنظری دبدبختی په وجه خرابه سویده.

## (۱۲) دزړه مرض انجائنا وریپښ سی

او په بدنظری سره په ز ړه کی انجائنا(دزړه یو ناجوړی ته وائی) پیداسی ځکه چی زړه په کشمکش کی مبتلا سی، حسن یی خپل طرف ته کشوی او دالله تعالیٰ بیره ئې پوری وهی په دی کشمکش سره انجائنا پیدا سی ځکه په کشمکش کی زړه غټ سی که دنظر حفاظت یی کړی وای نو دا کشمکش به نه وای او انجائنا به نه وای سوی. بیګانه ته په زړه ورکولو سره انجائنا پیښیږی لیکن ددې نور اسباب هم سته دانه چی ځوك دی په انجائنا کی مبتلا

ولیدی نو بدګمانی وکی چی ده به بدنظری کړی وی خصوصاً دنیکو خلکو په حق کښی نور هم داحتیاط او ښه ګمان څخه باید کار واخستل سی او پر هر مسلمان دښه ګمان کولو حکم دی، مطلب دادی چی پر نورو دی بدګمانی نه کوی بلکه خپل ځان دبدنظری څخه دساتلو دپاره دی دا تاوان مخ ته کښیږدی چی په بدنظری سره انجائنا پیښیږی.

## (۱۳) شرمګاه یی محفوظه نه پاتیږی

په بدنظری سره شهوت په حرکت راځی دکوم ښایست په لیدو سره چی ګرم سوکه هغه په لاس ورنه سی نود شهوت اور دسړولو دپاره دبدرنګی سره مخ تور کی ،ګرم سو یو ځای او سوړ سو بل ځای ،ګرم سو پر ښایستي او سوړ سو پر بدرنګی تور مخی باندی، بدنظری یی کړې وه دښایست په حرص کی او مخ یی تور کړی دداسی

بدرنګۍ سره چې دهغه وطرف ته کتل ئې هم زړه نه غوښتې. دا داسې خبیث عمل دی چې دګناه وآخیرې منزل ته ئې رسوی او بیا ښائستې او بدرنګۍ ته هم سړی نه ګوری. دبدنظرۍ کولو وروسته دشرمګاه محفوظه پاته کیدل ممکن نه دی. پدې خاطر اللّٰه تعالیٰ د ﴿ يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِمْ ﴾ وروسته ژر ﴿ وَيَحْفَظُوا فُرُوْجَهُمْ ﴾ نازل کړی.معلومه سوه چې دچا نظر محفوظه پاته سو دهغه شرمګاه هم محفوظه پاتیږی او دچاچې نظرنه وی محفوظه دهغه شرمګاه هم محفوظه نسې پاته کیدای.

## (۱۴) دمُشت زنی مریض جوړسی

په بدنظرۍ سره منی دځپل ځایه ښوری یعنی دملا دتیر شخه راووځی او دمنی داخاصیت دی چې بیرته نسی تلای لکه څنګه چې موټر شاته تلای سی منی بیرته شاته نسی تلای او لکه څنګه چې دبوزې غولانزی ته بیرته شیدې

نسی تلای ځکه چی په غولانزه کی دوتلو لار خو سته بیرته د ورتلو لاره نه لری، همدارنګه منی هم دځپله ځایه چی مخ ته راسی بیا بیرته نسی تلای. لهٰذا اوس په یو طریقه نه یو طریقه راوځی که څه هم په حرام موقع کی وی.

دبدنظری بدبختی ده چی بیا دحرام او حلال فرق نه پرکیږی. لهٰذا یابه دیوې ښځی سره مخ تورکړی یا به دیوه هلك سره په بدفعلی کولو سره ذلیله سی او که ځوك په لاس نه ورغلل نو به په لاس منی خارجه وی ځکه چی منی بیرته شاته نسی تلای. لکه څنګه چی د انجونو او هلکانو سره بدفعلی حرامه ده، ټوله منع سوی شیان حرام دی همدارنګه موټ وهل هم حرام دی چی په نوی نسل کی عام سویدی.په حدیث شریف کی پردې هم سخت عذاب دی ،که څوك په لاس باندی منی راوباسی

دقیامت په ورځ به دهغه په لاس کې حمل وي او ﴿ نَاكِحُ الْيَدُ ﴾ یعنی دلاس سره نکاح کوونکی یعنی په لاس سره منی ضایع کوونکی باندې په حدیث پاك کې لعنت راغلی دی.لهٰذا په حرامو موقعو کې شهوت پوره کول خو حرام دي لیکن حلال هم ډېره مه استعماله وه کنې صحت هم خرابیږي او په ذکر او عبادت کې هم خوند نسی اخستائی او اولاد هم کمزوی پیداکیږي.

پدې خاطر دبزرګانو نصیحت دی چې منی وساته کله په پنځلس ورځو یا په یوه میاشت کې چې سخت خواهش وی نو ضرورت رفع که. وګوری شیر په کال کې یووار صحبت کوی اودهغه څخه شیر پیداکیږي، همدارنګه کوم خلک چې په ډېر وخت کې صحبت کوی دهغو تکړه او دلاوره اولاد پیداکیږي.لهٰذا دمایني سره په صحبت کې اعتدال ضروری دی کنې

ډیره جماع دمرګ سبب هم ګرځیدلائی سی.

زموږ پیر حضرت پهولپوری رحمة اللّٰه علیه راته واورول چی یو عالم وو ښځه ئې ډیره ښائسته وه کله چی به کورته دچلم ډکولو یا دیوکار دپاره داخل سو دماینې په لیدو سره به بې اختیاره سو دونه صحبت ئی وکی چی شپږ میاشتی وروسته یی دمنی پرځای وینی راتللی بیا ئې حرارت پاته سو تردې حده چی تبه ئی تر هډوکو پوری ورسیده او آخیر ئې جنازه ووتل ښائست ئې ژوند واخستی. پدې خاطر درته وایم چی په حلال کی هم میانه روی وساته او حرامو ته خو بیخی مه ورنژدې کېږه. اللّٰه تعالیٰ دی دعمل توفیق راکړی.

**اَللّٰهُمَّ اَرِنَا الْحَقَّ حَقّاً وَّارْزُقْنَا اتِّبَاعَه‘**
**وَاَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلاً وَّارْزُقْنَا اجْتِنَابَه‘**